بسم الله الرحمن الرحيم

ځلورم څپرکی

د نرسنګ عملیه

Nursing process

مقاصد
Objectives

ددې درس په پای کې به زده کوونکې پدې وتوانیږي چې:

- دنرسنګ پروسه تعریف کړي.
- دنرسنګ دپروسې مقاصدو ته توضیح ورکړي.
- د نرسنګ دپروسې پنځه مرحلې معرفي کړي.
- دمعلوماتي ځانګې مختلفومنابعو جمع اوري دارزیابۍ لپار معرفي کړي.
- دمراقبتي برنامو په اړه بحث وکړي.
- دمراقبت دنتیجه ګیرۍ څخه بحث وکړي.

NURSING PROCESS

ترتیب : غلام علي(نصرت)

د نرسنګ عمليه Nursing process

تعريف

د نرسنګ پروسه يوپلان سوې ،عقلاني او سيستماتيکه ،منطقي rationalطريقه ده او په علمي توګه د ستونزو individualized nursing care) حلول او د ناروغ څخه ارزيابي او مراقبت کول دي .

ترتيب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

Nursing Care Plan
NCP

دنرسنګ دپروسی ځانګړتیاوی
(Characteristics of Nursing Process)

دنرسنګ د پروسي دتوضیح له پاره ډېرشمېر اصطلاحات کارول سوي دي مګر کلیدي اصطلاحات يي عبارت دي له سیستماتیک،متحرک،بین الاشخاص،نتیجه محور او قابل دتطبیق په ټوله نړۍ کي ده .

سیستماتیک Systematic

دنرسنګ هرفعالیت د یو شمېرهدف منو فعالیتونو درلودونکی وي چې هر فعالیت يي دتیرفعالیت له انجامیدو سره اړیکه لري چې په خپل وروستي فعالیتونوباندي اغېز لري.

دنرسنګ دپروسې هره مرحله دنرسنګ مراقبت په یوه هدایت سوې طریقه (Ordered manner) اوپه پرله پسې (Sequential) توګه پرمخ وړي.

متحرک Dynamic

که څه هم دنرسنګ پروسې ته په خپلو کې سره ورته والي په توګه تبارز ورکول کيږي.
مګرپه واقعيت کې دنرسنګ د مرحلوترمنځ متقابل عکس العملونه او مداخلې (over lapping) وجودلري.
دنرسنګ پروسې هيڅ وخت ديوځل له پاره نه استماليږي اوپه ډيرو حالاتوکې پنځه واړه مرحلې په يوځای په کار وړل کيږي.

داشخاصوترمنځ (interpersonal)

دنرسنګ پروسې اقدامات ناروغ محوري (Patient centred) دي نه وظيفه محوره (task oriented) اطمينان ورکوي .
دنرسنګ پروسه نرسان تشويقوي ترخود يودبل په همکاری دناروغ صحي مشکلات په صحيح توګه لاس رسی پيدا کړی.
نه داچي ناروغ ته په سخته سترګه وګورئ اويا په ميخانيکي ډول ورحل کړي.

دمحورنتيجه (Outcome Oriented)

دنرسنګ پروسه دنرسانو او دناروغانوترمنځ يو وسيله ده ترڅوچي يودبل سره کار وکړي اودناروغانو خاص نتايج لاسته راولي او روغتياته وده ورکړي لکه دساري ناروغۍ څخه مخنيوی،دناروغ ژوند ژغورل دي.

دناروغ برنامې ثبت کړئ او اولیت بندي دي وسي اومخته ولاړسئ.

ترتيب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

په ټوله نړۍ کي دتطبيق وړ دي

په اوسني وخت کي ټوله نړۍ دتغيرپه حال کي ده کله چي نرسان کافي علم او دانش ولري او دنرسنګ پروسه باندي په کافي اندازه پوه و اوسيږي هغوی کولای سي چي دنرسنګ عملیې دناروغانو لپاره ،دکاهلانو یا ماشومانوله پاره په هرډول او په هر روغتیائی مرکز کي دنده ترسره کړي.

د نرسنګ د پروسې پنځه پړاوه
Five phases of nursing process

1. ارزونه (Assessment)
2. تشخیص (Diagnosis)
3. پلان جوړول (Planning)
4. ګډون کول (Implementing)
5. نتیجه اخیستل (لاس ته راوړل)(Evaluation)

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

ادامه

۱- ارزونه (Assessment)

ادامه

په سیستماتیک ډول دناروغانو ارزونه ، اعتبار درلودل(validation)، تجزیه او تحلیل اودناروغ دمعلوماتو پوهاوی دی.
دمعلوماتو یوځای کول دنرسنګ دپروسې یوحیاتي برخه ده ځکه چې دنرسنګ پروسه دوروستۍ مرحلې لپاره تړاو لري .
مکمل، دقیق ،حقیقي اویودبل سره ارتبات لري چې په دغه مرحله کي جمع اوري کیږي.

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

Types of Data دمعلوماتو ډولونه

ادامه

د ناروغانو څخه د اطلاعاتو را ټولول په لاندي ډول دي .

1- ذهني يا Subjective: په ذهني اطلاعاتوکي نښي (Symptoms) يا معلومات محفوظ (covert) وي .په دغه خاطرذهني ويل کيږي چي دناروغ په ذهن وي . چي دغه نښي د ناروغ دکورنۍ له خوا واضح نه دي اونه تائيد کيږي .مثلآ دردونه، بې کراري او تشويش کوي اويوازي ناروغ په خبردی تر څوچي ناروغ ونه وايي نوروته قابل د ادراک نه دی

2– عيني يا Objective: په عيني اطلاعاتو کي علايم يې (Signs) يا ښکاره معلومات (Overt) دي چي مشاهده کونکوپه واسطه مشاهده کيږي او د فزيکي معاينا تو په وخت کي اجرا کيږي لکه ضربه واردیدل ، زخمونه ،سوروالی ، دفشارلوړوالی او داسي نور .

د اطلاعاتو منابع Source of data

لومړنی منابع یا primary source : خپله ناروغ لومړنی منبع ده .

دویمه منابع :Secondary sources : دویمه منابع د ناروغ ملګري ، کورنۍ او یا په مستقیم ډول (Direct Source)دروغتیایي ټیم له خوا،دناروغ دوسیه او اسناد ،لابراتواري ټیست ،نورتشخیصیه منابعوڅخه معلومات لاس ته راځي غیري مستقیم indirect sources) دی.

د اطلاعاتو د جمع کولو طریقه Data collection methods

1– مشاهده کول (عيني اطلاعات) Observing

2– مصاحبه کول (ذهني اطلاعات) Interviewing

3– معاینه کول (عيني اطلاعات) Examination

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

مشاهده کول

دحسیتونو له لاري دمعلوماتو راټولول دي
دوه جزونه لري:
۱ - د معلوماتو ملاحظه کول
۲ – انتخابول، دمعلوماتو پلانول او تفسیرول

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

مصاحبه کول

مصاحبه دمعلوماتو دترلاسه کولو او ورکولو ، ستونزو د پېژندلو ، دناروغۍ په حالت کې دتغیراتو د ارزیابۍ، ناروغ ته دمشورې ورکولو یوه پلان سوې با هدفه مکالمه یا مفاهمه ده

دوه ډوله مصاحبه شتون لري

- ✓ هدایت سوې Directive
- ✓ نا هدایت سوې Non Directive

معاینه کول

فزیکي ارزیابي دمعلوماتو له راټولو څخه عبارت ده
فزیکي ارزیابي په سیستمیک ډول ترسره کیږي
په فزیکي ارزیابۍ کي لاندي کړني اجراکیږي

- تفتیش Inspection
- جس Palpation
- قرع Percussion
- اصغا Auscultation

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

تفتيش Inspection

ترتيب كوونكى : استاد غلام علي نصرت

Palpation جس

Percussion قرع

Auscultation اصغا

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

تشخيص کول Diagnosing

دنرسنګ دپروسې دويمه مرحله ده په دې مرحله کې له ارزيابۍ سوو اطلاعاتوڅخه کاراخيستل کېږي او دناروغ توانايي او ستونزي دنرسنګ دپروسې ډيره مهمه برخه تشخيص کول دي.داځکه چې دنرسنګ نوري پروسې دنرسنګ دتشخيص په بناء پيليږي.

په تشخيص کې درې مرحلې شاملې دي

1– د اطلاعاتوتجزيه اوتحليل.(Life processes)

2– دروغتيايي ستونزمعرفي ، دناروغ توانايي او دخطرفکتورونه.(aetiologies)

3– دتشخيص دموانع لپاره فرمول جوړول دمشکلاتودحل لپاره.

دنرسنګ دتشخيص ډولونه (Types of Nursing Diagnosis)

دشمالي آمريکا دنرسنګ تشخيصي ټولنې (North American Nursing Diagnosis) پېنځه ډوله دنرسنګ تشخيص تشريح کړی دی.

1. واقعي تشخيص
2. په خطر پوري تړلی تشخيص
3. احتمالي تشخيصونه
4. په صحت پوري اړوند تشخيص
5. په سنډروم پوري اړوند تشخيص

دنرسنګ واقعي تشخيصونه

د نرسنګ نوموړي تشخيصونه څلور اجزاوي لري

1) لوحه (عنوان) Label
2) تعريف Definition
3) تعريف ځانګړتياوي Definition
4) مربوطه فکتورونه Related Factors

ترتيب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

مثال

لوحه : غيرمتوازنه تغذيه

تعريف : د بدن دضرورت څخه زياته غذا اخيستل

تعريف كوونكي ځانګړتياوي:

- ✓ دناروغ په واسيطه په يوې مكملي ورځي كي د ډېروغذايي موادو اخيستل
- ✓ دخوړلو عادات
- ✓ د بهرني موضوعاتو په استجواب كي خوراک
- ✓ دبدن دداخلي موضوعاتو په استجواب كي خوارک بغير دلوړي دارېكي.
- ✓ د Triceps دعضلې دجلد اندازه كول ۲۵ لږيا مساوي په ښځوكي او ۱۵ لږ يا مساوي په نارينه كي.
- ✓ وزن زياتوالی چې له ٪۲۰ څخه زيات وي\

اړوند فکتورونه:

د بدن دمیتابولیکي اړتیاوو اړوند د مفرط غذایي موادو اخیستل

په خطر پوري ټړلي دنرسنګ تشخیصونه Risk Nursing Diagnosis

د هغه اشخاصو ، کورنیو په هکله له کلینکي قضاوت څخه عبارت دی چې دنورو اشخاصو په پرتله روغتیایي ستونزو ته ډېر تر خطر لاندي وي.

د نرسنګ محتمل تشخیصونه
Possible Nursing Diagnosis

دهغه بالقوه ستونزي په هکله توضیح ده چي دهغه دتصدیق لپاره نورو اضافه معلوماتو ته اړتیا وي

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

په صحت مندۍ پوري تړلي تشخيصونه
Wellness Diagnosis

دا د اشخاصو ، ګروپونو او ټولنو دصحت له يوې کچې څخه دصحت دبهتر او پورته کچې ته د تللو له قضاوت څخه عبارت دی

په سنډروم پوري تړلي تشخيصونه
Syndrome Nursing Diagnosis

د نرسنګ ديو لړ حقيقي او ځانګړو تشخيصونو څخه عبارت دي چې په خطر پوري تړلي دي او په خاصو وضيعتونو کي سکاره کيږي

لکه :

د صدمې وروسته سنډروم Post Trauma Syndrome

ترتيب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

دنرسنک د تشخيص د عباراتو برخي

دوه قسمي عبارتونه:

لکه : دناروغ دستونزو لپست کول ، او اسباب معلومول.

درې قسمي عبارتونه:

لکه : دناروغ دستونزو لپست کول ، او اسباب معلومول او ستونزمن تعريف کوونکي ځانګړتياوي.

د انسان داړتياوو له پاره دمازلو هرم

1) فزيولوژيکي اړتياوي Physiological Needs
2) ساتونکي (محافظوي اړتياوي) Safety Needs
3) د مينې او تعلق اړتياوي Love and Belonging
4) د ځان احترام اړتياوي Self Esteem Needs
5) د نفس دحقيقي کولو اړتياوي Self Actualization Needs

ترتیب کوونکی : استاد غلام علي نصرت

پلان جوړول (Planning)

پس له دې څخه چې نرس دناروغ معلوماتونه تجزیه اوتحلیل کړه دناروغ قوي او ضعیف نقاط په ګوته کړه دنرسنګ په کړنې کې پلان جوړوي دنرس په عیني پلان جوړولوکې دناروغ اویا دهغه دکورنۍ په مرسته کې لاندې کارونه ترسره کیږی:

- د اولیتونوترتیبول(Establishing Priorities)
- دنتایجوپیژندنه او متوقعه تحریر دناروغ دکړنې لپاره (Identify and write expected patient)
- دنرسنګ دکړنې انتخاب نظریه شواهد(Select evidence based nursing inter venations)
- دنرسنګ دمراقبت لپاره برنامې(Communicate the Plan of nursing Care)

تطبيق (Implementation)

دنرسنگ په پروسه کي تطبيق په مرحله يې توګه دی چي دنرسنگ برنامه ريزي پکښې ترسره کيږي نرس د برنامې مشخص فعاليتونه او دناروغ مراقبت ترسره سوی دی اودفعاليت په ختم کی اودناروغ په مقابل کی استجواب په اسنادوکی ثبت(documentation)کيږی.

- ✓ دتطبيق کولوپروسه (Process of implementation).
- ✓ دتطبيق کولوپروسه عموماً لاندي مراحل پکښې شامل دي.
- ✓ دناروغ نوې ارزيابي(Reassessing the Client)

نتیجه ګیری (Evaluation)

نتیجه ګیری دنرسنګ دپروسه پنځمه مرحله دوامداره فعالیتونونتیجه ګیری دی،پرمقاصدو مطابق برنامه ریزی سوی دی چی دهغه په واسطه ناروغان او روغتیائی تیم تعینوی.

الف:ایا ناروغ دمقاصد وه طرف ته دحرکت په حال کی دی.

ب:دنرسنګ داهتماماتو موثریت تعین کړی.

نتیجه ګیری دنرسنګ دپروسه یو اساسی جنبه ده پدی خاطرچی نتیجه ګیری مشخص کوی چی آیا دنرسنګ اهتمامات باید ادامه پیداکړی،ختم سی، او یا داچی اصلاح سی.

حديث شريف

د چا چي لباس تر بيجلکو کښته وي، الله (ج) به هغه ته د قيامت په ورځ د رحمت په نظر ونه ګوري او د هغوی له پاره به دردناکه عذاب وي.

(بخاري، مسلم)

دتوجه نه مو مننه